مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۱۲/۱۱

# زه او ته

که چيری دوه يَوْ حسـابيری هغه زه او ته يو
که يو د بل نه ډير زاريږی هغه زه او ته يو

که چيری دوه تنه يو بل د پاره ژوند غواړی
زړونو کی يو د بل اوسـيږی هغه زه او ته يو

که دوه مَين شی د خطر کومی صحنې سره مخ
لار کی يو بل نه مخکی کيږی هغه زه او ته يو

که د ژوندون خوږو ترخو ته د هميش د پاره
د يو وجود په څير يو کيږی هغه زه او ته يو

که دوه سينو کی کله دوه زړونه د نورو په غم
سـره په يـو ډول زوريږی  هغه زه او ته يـو

چی د څولی څولی جنګونو او شخړو وروسته
لنـده شـيبه کی پخـلا کيږی هغه زه او ته يـو

چی بی له مينې ورته ژوند کومه معنی نه لری
ډير چی له کرکې نه ويريږی هغه زه او ته يو

چی د نړی هره ګوښه کی د انصاف د پاره
سم په اورونو کی سوځيږی هغه زه او ته يو

چی کله هم خپل کليوال په ژړا نه شی ليدای
هری ژړا ته چی ژړيږی هغه زه او ته يـو

زما اوستا ترمنځ توپيرتش په رنګونو کی دی
نورچی په هيڅ شی نه بيليږی هغه زه او ته يو

دسمبر/۶/۲۰۱۸
تورنتو ــ کانادا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ